# د سوهېلي پښتونخوا په نظم کښې طبقاتي شعور

**A Study of Class Consciouness in Pashto Poems of Southern Pashtoon Khwa**

محمد نسیم افغان*

**Abstract:**

Pashto poetry of Southern Pashtoon Khwa had extensively contributed to the very objective of Literature and raised the voice of oppressed masses in the form of couplets. The author of this paper attempted to unpack the real issues of public discussed in pashto poetry of Southern Pashtoon khwa. The poems or couplets from the poetry of the prominent poets who have depicted class consciousness.

**Keywords:** Class Consciousness, Pashto Poem, Southern Pashtoon Khwa

شاعران او ادیبان د ټولنې هغې سترګورې طبقې ته ویل کیږي چي د ټولنې د ګټې هر اړخ په نظر کښې ساتي، کومې ناوړې پېښې چي چا ته په مرئي یا غیر مرئي توګه رسیږي د هغو نشاندهي کوي او ورسره یې د ښېګړې خوا ته د تللو دپاره د حل لارې هم ګوري. د ډېرو اړخونو په ترڅ کښې یو اهم اړخ په نورو ټولنو کښې په عمومي توګه او په پښتني ټولنه کښې په خصوصي توګه د طبقاتي ژوند کولو هم دی، هم دغه د ژوند په طبقاتي توګه تېرولو کښې پښتون له عمرونو عمرونو راهیسې ګېر دی او دې ته د پښتني ټولنې توجه را ګرځول هم ادیبانو خپله ذمه واري ګڼلې ده او ټولنې ته یې طبقاتي شعور ورکړی دی او ورسره یې له دې ناوړې رویې د خلاصون لارې هم په ګوته کړې دي. ذکر شوی طبقاتي شعور څۀ ته وایي؟ د دې تعریف څۀ دی، او په ټولنه چي یې کومې اغېزې کړې دي، په دې ټولو به تفصیلي بحث کیږي خو تر هرڅۀ له مخه زۀ د طبقې لغوي معنا په ګوته کول ضروري ګڼم، پښتو لغت دریاب د طبقې داسې معنا کړې ده:

"طبقه: (۱) ډله، جماعت، پرده، جنبه، (۲) درجه، منزل، رتبه"(1)

اردو لغت فېروزاللغات یې معنا داسې راوړې ده:

"طبقہ: (ط۔ب۔قہ) (ع، ا،م) (۱) منزل، درجہ، (۲) تہ۔پرت، (۳) تہ۔پرت، (۳) روک۔پردہ، (۴) آدمیوں کا گروہ، (۵) پایہ، (۶) رتبہ جمع طبقات."(2)

یعني د طبقه/ طبقې معنا ده ډله، ټولۍ، جماعت، درجه، رتبه، منصب، منزل.

طبقې د خلګو و ډلو ته وایي یعني طبقه د خلګو و هغې ډلي یا ټولۍ ته ویل کېږي چي په اقتصادیاتو کښې، په منصب کښې، په رتبه یا درجه کښې یو بل ته نژدې وي، طبقه په اصل کښې د ډلي یا د خاندان/ کورنۍ تر منځ د توپیر کولو والا وېش تصور کېږي، لکه امیر، غریب یا د

* M.Phil Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta

استحصال کولو والا ډله، او چي استحصال يې شوی وي هغه ډله د اميرانو ډله، د غريبانو ډله، وېکيپېډيا د طبقې تعريف داسې کوي:

"طبقہ لوگوں کے ایک ایسے گروہ کو کہتے ہیں جو مرتبہ، رتبہ، منصب، درجہ اور معیشت کے مطابق ایک دوسرے کے قریب ہو یا ایک جیسے لوگ ہو۔"(3)

د معيشت او اقتصاد د توپير په وجه، د مرتبې او منصب د فرق په وجه يوه طبقه له بلي طبقې څخه يا يوه ډله د بلې ډلې څخه په بېل طرز کښې ژوند کوي، لکه لاندې طبقه چي په مکمله توګه د غريبۍ او بې قدرۍ سره مخامخ وي، محنت، مزدوري، خواري، مشقت او د لېبر په توګه ژوند کوي، دوومه طبقه هغه ده چي ورته درميانه طبقه يا ډله ويل کېږي چي تر لاندې طبقې يا ډلې يې ژوند ښهٔ وي خو بيا هم ترقي يافته ژوند ته نهٔ وي رسېدلې او بله بيا لوړه ډله يا طبقه ده چي ورته ټولې جديدې اسانتياوې حاصلې دي او په دې نړۍ کښې د جنت غوندې ژوند تېروي، له هرې پرېشانۍ، تنګ دستۍ او مجبورۍ ورځې څخه خلاص وي او ورسره يې د لاندو طبقو استحصال هم کړی وي او د هغوی حقوق تر پښو لاندې کوي او د باداری او حاکم غير مهذبه رويه لاهم ورسره ساتي، ظلم، زياتوب، جبر، غرض هر څهٔ له لاندې طبقو سره کوي.

د اردو ژبې ليکوال ښاغلی عطا مهر په دې حقله داسې ليکي:

"حکومتوں کی غیر ذمہ داری کی وجہ سے دولت و معاشرتی پیداوار کی غیر منصفانہ تقسیم نے جہاں انسان کو مختلف طبقوں میں تقسیم کر دیا، وہی انسانی معاشرے میں طبقاتی نظام کو منظم و مستحکم کر دیا، جس سے انسان نچلا طبقہ، متوسط طبقہ، اعلیٰ طبقہ، امیر و غریب، نوکر شاہی جیسے مختلف طبقات میں بٹ گیا۔ اس طبقاتی سسٹم نے جہاں معاشرے میں معیشت، سیاست، صنعت و حرفت اور تجارت جیسے شعبوں کو متاثر کیا۔ وہی اس نے تعلیم کو بھی اپنی لپیٹ میں لے لیا۔ تمام شہروں میں یکساں نظام تعلیم نہیں۔ حیثیت کے اعتبار سے ہر طبقے کے لیے نظام تعلیم کے الگ الگ مواقع پیدا ہونے لگے۔"(4)

ژباړه: د دولتونو د خپلې ذمه دارۍ نهٔ پوره کولو په وجه دولت او د ټولنې پيداوار په بې انصافۍ وېشلو يو خو انسانان په بېلابېلو ډلو کښې وېشلي دي او ورسره يې په انساني ټولنه کښې طبقاتي نظام نور مضبوط او مستحکم کړی دی، چي له دې څخه وګړي په لاندې ډلې، ميانه ډلې او لوړې ډلې، خوار او امير، نورکر او بادار په څېر په مختلفو ډلو کښې وېشل شوي دي، دې طبقاتي نظام په ټولنه کښې معيشت، سياست، صنعت او د تجارت څانګې متاثره کړې، دغه رنګه يې تعليم لاهم متاثره کړی دی او په ټولو ښارونو کښې يو رنګه تعليمي نظام نهٔ شته، د حېثيت په اعتبار د هرې ډلې د تعليم نظام جلا جلا شو.

په اوسني وخت کښې په ټولنه کښې بيا په خاصه توګه په ادب او شعر و شاعرۍ کښې په لويه پيمانه طبقاتي شعور راغلی دی، اولس او شاعران دا هر څهٔ ويني، محسوسوي يې او غندنه

يې کوي، خو له دې هر څهٔ ظلم و زياتوب څخه خلاصون څنګه وشي، په دې کښې ډېر عوامل په مخ کښې خنډ دي، ځکه د خلاصون د پاره اوږدمهاله مبارزه په کار ده، ولې چې لاندې طبقې په ډېرو حوالو متاثره دي، نهٔ يوازې د لوړې طبقې له خوا د اولس استحصال کېږي بلکې موجوده رياستي قوانين، عدالتي نظام، رياستي نظام هم په مختلفو شکلونو کښې د غريبانو او مزدور طبقې استحصال کوي او د لوړې طبقې دفاع کوي.

په ادب کښې د کارل مارکس نظريه پر دې اډانه لري او طبقاتي خبره کوي، د مارکسي نظريې او مارکسي کره کتنې په اړه ښاغلی ډاکټر نصيب الله سيماب داسې نظر لري.

"مارکس په خپله نظريه کښې په ادب کښې د مزدور، خواريکښ او بزګر خبره کوي او د طبقاتي شعور خبره کوي، مارکس دا تعليم ورکوي چې د ټولنې ارتقا او د ژوند نور مناظر د مادي احتياج لري او د اقتصادي عواملو مرهون منت دي، که چيرې په ادب کښې دې شيانو ته توجه و نهٔ شي نو هغه ادب يا اديب د ټولنې دپاره مسيحا نهٔ بلکې د يوهٔ رنځور په شان دی، په خپله هم رنځور دی او ټولنه هم په رنځ اخته کوي، په مارکسي کره کتنه کښې خواريکښ ته د اتل ځای ورکول شوی دی."(5)

په ملک کښې د امير يا غريب يا په نورو الفاظو کښې د استحصال کولو والا يا چې د چا استحصال کېږي، د دې ټولو طبقو په منځ کښې چې کوم اختلاف، فاصله يا توپير دی، د دې اسباب، حقايق، اثرات او نتايج په حقله يوې نهٔ يوې طبقې کښې د احساس ادراک يا رسېدنه وشي، و دې ته طبقاتي شعور وايي، دا شعور تر عام اولس په شاعرانو خلګو کښې ډېر دی، ولې چې دوی حساسه خلګ دي، شاعران په خپلو اشعارو او نظمونو کښې د طبقاتي نظام په حقله د ټولنې حقيقي تصوير او اثرات مخ ته راوړي.

سوهېلي پښتونخوا هم له هغو سيمو څخه يوه سيمه ده چې د طبقاتي نظام له اثراتو څخه محفوظ نهٔ ده، شاعران د اولس حقيقي سترګې وي، ځکه د سوهېلي پښتونخوا په شاعري بيا په خاصه توګه په نظمونو کښې طبقاتي شعور ډېر ليدل کېږي، او ورسره د دې اصلي عوامل په ګوته شوي دي او د طبقاتو تر ميان چې په مختلفو حوالو جنګ روان دی، هغه ټول يې په خپلو نظمونو کښې د شعر په ژبه و اولس ته په علمي انداز وړاندې کړی دی.

که چېرې مونږ د سوهېلي پښتونخوا د مختلفو شاعرانو په مختلفو نظمونو نظر واچوو نو د طبقاتي شعور په حقله ډېر مثالونه شته چې په لومړي مثالونو کښې يې يو ښهٔ مثال د سلطان محمد صابر دا نظم دی:

بډایه!

"اې زرداره! اې ملکه! اې بډایه!
اې زمونږ پر ورږو سپور باطله خدایه!
په ډار ډار به یو پوښتنه درنه وکړم
که بد نهٔ ورېږې دا زما غریب له ګایه
دا موټر، دا بنګلې، دا شرابونه
تا له کومه کړه پیدا دومره سرمایه
دا سور مخ او غټ وجود ته چې دې ګورم
دومره وینه دې پیدا کړه له کوم ځایه
یو سړی، یو دې ټبر سل دې کورونه
مونږ پیدا نهٔ کړو بچو له دا سرمایه
ستا دروغ زمونږ رښتیا چې سره ورشي
هم قاضي ځي هم جرګه ځي ستا په رایه
ټول ژوندون مې په چوپړ کښې ستا اېرې کړ
خبر نهٔ شو په دې راز باندې تر پایه
دا قسمت دی که جادو دی یا هنر دی
څهٔ خو مونږ ته هم بډایه تهووایه!
چې هر څو نوم د شرابو ورکه ورکړې
ستا په جام کښې وینې زما ښکاري له ورایه"(6)

سلطان محمد صابر په دې نظم کښې د ټولنې هغه طبقه په ګوته کړې ده چې د غریبانو، مزدورانو او بې وزله خلګو پر اوږو منصبونو ته رسېدلي دي او نن د نړۍ ټولې اسانتیاوې ورته حاصلې دي او یوازې خپله ذاتي ګټه یې د ژوند مقصد ګرځولی دی، کومه سرمایه چې یې تر لاسه کړې ده او چې په کوم انداز عیشونه کوي د دې د آمدن ذریعې نهٔ شي ښودلی، د دوی په دې عمل کښې ناوړه نظام، عدالت، قاضي او د ټولنې ځینې خلګ هم سم ورسره شامل دي چې دفاع یې کوي، د دوی په سرمایه، بنګلو او شرابو کښې د غریبانو او مظلومانو خلګو وینې ښکاري او په هرې مستۍ او عیاشۍ کښې یې د غریبې طبقې سره د ظلم او زیاتوب رنګونه لیدل کېږي، د غریب او امیر تر میان فرق، او ورسره له غریبانو سره زیاتوب او د خوارانو یعني دلاندې طبقې احساس محرومي او بې چیني له دوی څخه د دې نړۍ خوند اخیستی دی، د دوی عمر او وخت د

اميرانو خلګو په خدمت کښې تېر شي خو په نتيجه کښې د دوی د جذباتو، قدر و نۀ شي، او دوی ته احساس کمتري ور په برخه شي او دغه اوسنی نظام هم د هغو خلګو او طبقو حوصله افزايي کوي څوک چي د خوارانو استحصال کوي، د وخت خانان فيوډالان دغه ناترسي جاري ساتي، که هر څو مزدور طبقه د فيوډالانو په خدمت کښې خپل ځانونه خاورې کړي، خو ژوند يې بيا هم له ستونځو سره مخامخ وي. پروفيسر سيال کاکړ په يو نظم "فيوډالي" کښې په دې حقله داسې ليکي:

"دا چي پاته په ژوندون کښې بد نظام دی
يو چړچې کړي بل محتاجه د طعام دی
لا تر اوسه مونږ بنده د بندګانو
خوار ولاړ و هر فيوډال ته په سلام دی
دغه لوی جهان پر خوار دی اوس تنګ شوی
زردار ځکه له غريبه څۀ پر وام دی
اخر کار به فيوډالي ځي له مابينه
سيال کاکړ ته په رښتيا شوی الهام دی"(7)

تر څو چي طبقاتي نظام وي، تر هغو به مزدور او غريبه طبقه د مشکلاتو سره مخامخ وي او ګوزران به يې په دې نړۍ کښې ګران وي، په طبقات کښې وېشل شوې ټولنه کښې د غريب خيرخواهي نۀ شته، بلکې دا نظام د غريبانو او محکومو خلګو د پاره د وراني سامان پيدا کوي، د انسانيت تلل، د هغه په ټولنه کښې وزن او د هغه مقام چي د انسانيت، خواخوږۍ، وصيله او همدردۍ پر ځای پر مال و دولت شي نو له ټولني څخه ښۀ سوچ کېده وکړي، د پروفيسر سيال کاکړ دا نظم چي طبقات نور زغملی نۀ شو د طبقاتي او سرمايه دارانه نظام په حقله ډېر لوی فکري احتجاج او مزاحمت دی، د نظم يو څو شعرونه يې د بېلګې په توګه وړاندې کوم:

"څوک سپاره په جهازو کښې    څوک ولاړ وي په بسو کښې
څوک د شپې په شومتیا پرېوزي    څوک بازۍ کړي په پیسو کښې
څوک ولاړ د چا و در ته    بل اخته وي په چړچو کښې
یو د شپې چوکیداري کړي    نور ویدۀ وي په خوبو کښې
د چا لاس و پښې تناکې    ځینې مست وي په نشو کښې
د چا در په دره ژوند وي    د چا ژوند وي په عېشو کښې
طبقات نور زغملی نه شو    هر سړی په دا فکرو کښې"(8)

طبقاتو او ډلو د انسانانو تر منځ د ژوند د تېرولو په طریقه او چارو کښې دومره توپیر پیدا کړی دی چې دولت مند او شتمن خلګ د غریب او مزدور د ژوند هیڅ احساس هم نۀ کوي، مزدور نۀ یوازې د ښۀ ژوند تېرولو څخه محروم دی بلکې ښۀ خوراک یې هم په نصیب نۀ وي، هر کله د ښۀ ژوند پرته د ښۀ خوراک یعني د ښۀ خواړه هم ارمان لري چې څۀ خوري نو تر هغه زیات قوت او توانایي د مشقت او خوارۍ له وجې له لاسه ورکوي، داسې وي لکه چې د دنیا هر نعمت له دوی څخه تېښته کړې وي، ولې چې مزدور طبقه وچه ډوډۍ لاهم په ګرانه تر لاسه کوي، د ښۀ خوراک او د خوښۍ تصور لاهم نۀ شي کوای، ځکه په محنت او مزدورۍ باندې هر وخت بوخت وي، ژوند یې ټول په خوارۍ کښې داسې تېر شي چې لاسونه یې هر کله تناکې وي، د پښتو ژبې نامتو شاعر ښاغلی درویش درانی په خپل یوه نظم کښې داسې بیانوي، د درویش صاحب د نظم دا لړ برخه د پورتني لیک په مکمله توګه عکاسي کوي:

"که روپۍ او زۀ یو ځل سره یو ځای شو
بیا به داسې حالات نۀ وي لکه اوس چې
د خدای هر نعمت له ما په تېښته ښکاري
یوه وچه ډوډۍ هم په ګرانه مومم
له مودو راسې د غوښې په ارمان یم
مګر غوښه ده له ما ګوره په منډه

خالي لوږه راسره ده په دې حال کښې
دغه لوږه ما ته دا سبق راښیي
چې روپۍ همېشه زېړې له تناکې
او په خدای دغه خبره یې رښتیا ده

چي زۀ لاس په مزدورۍ کښې کړم تناکې
هغه ورځ مي په ورغوي کښې روپۍ وي"(9)

د حاکم او محکوم طبقاتو په مینځ کښې هر وخت کشمکش دوام لري، لېکن هغه طبقه چي د هغې استحصال روان وي، پرولتاریه یعني طبقه ورته وایي، تر هغه وخته له ظالمانو یعني یورژوا طبقې څخه ازادي نۀ شي ترلاسه کولای تر څو پورې چي له ځانه سره د ټولنې اکثریت ملګري نۀ کړي او د همېشه دپاره له لوړې طبقې څخه د ځان خلاصولو دپاره عملي مبارزه و نۀ کړي.

د ټولنې دغه غلامانه اجتماعي سوچ بدلولو پکار دی چي د لوړې طبقې و ظلم زیاتوب او بې انصافۍ ته تحفظ ورکوي، د لاندې طبقې یعني د غریب او مزدور سره ظلم چي د هغو قسمت او تقدیر ګڼي او د لوړې طبقې شاهانه سوچ، بې انصافي د خدای ورکړۀ او قسمت و تقدیر بولي، خو د غریب او مزدور سره ظلم او بې انصافي د غریب او د مزدور بدقسمتي او د تقدیر فیصلې ګڼي، همدغه غلط اجتماعي سوچ له لوړې یعني بورژوا طبقې سره یو ډېر لوی کومك دی، ځکه نتیجه یې دارائي چي د لوړې طبقې سره تعلق لرونکي فیوډالان د مزدور طبقې سره ظلم او بې انصافي خپل حق ګڼي او سم دم د خدایي دعوې کوي، ځکه غریب طبقه د دوی ظلم او بې انصافي د مجبورۍ له جوره زغمي، د ناوسۍ له کبله غوټ انکار نۀ شي کولای، سرمایه دار طبقه دومره خوف او وېره خوره کړې چي د دوی له مرګه وروسته هم د هغۀ رعب او دبدبه تر ډېره وخته ژوندې پاته وي او تر ډېره وخته قصیدې پر ویل کیږي، دغه ټولې خبرې ښاغلي افضل شوق په خپل یو نظم کښې داسې بیانوي، په نظم اې د فرعون په نوم ناوسه خدایه کښې د فرعون د مرګه وروسته هم د هغۀ قصیدې دوام لري:

ستا د خدایي دعوې
که نۀ هم ومنو
خو بیا هم، غوټ انکار کولای نۀ شو
ځکه چي ستا د لوظ په سمه مصریان
ښکاري چي د مرګه پس لاهم
ستا په نامۀ
له مودو ژوند ته اوړي
داسې په ویاړ او په مزه ورکوي
لکه نعوذ بالله ته چي خدای یې
که څۀ هم حقه دا

چي مړي ته
او مړ تل وي د ژونديو په لاس
نۀ چي ژوندوي وي
د مړۀ بت په طمع"(10)

د طبقاتو په جنګ کښې د سرکار او دولت سوچ او رويې هم هرکله د لوړې طبقې ملاتړ کوي، او لوړه يعني بورژوا طبقه نوره هم مضبوطه کوي، د دولتونو قوانين هم سم دم د غټانو قانون ښکاري او پر هر محاذ او ميدان د دوی د سوچ، فکر نظريې او د معيشت دفاع کوي. کوم حقوق چي سرمايه دارانو، شتمنو خلګو ته ورکول کيږي يا کوم خيال چي د دوی ساتل کيږي، غريب او مزدور طبقه د هغه سوچ هم نۀ شي کولای، د دولتونو فيصلې هم د انسانانو په مينځ کښې د تقسيم او وېش پخلی کوي، خو له بده مرغه د همدغه غريب او مزدور طبقې د دې ځنځيرونو د ماتولو دپاره له دې تيارو څخه د وتلو دپاره او د غريب او د امير تر مينځ د فاصلو ختمولو دپاره انقلابي مبارزه پيل کړي او له دې نظام څخه بغاوت وکړي، نو هم په سرکار او هم په لوړه طبقه د مزدورانو د خولو او د سترېا قدر وکړي او هم غريب د نفس خيال وساتل شي او هم به د غريب او د امير تقسم ختم شي او هم غير مساوي سوچ له مينځه ورك شي. د ځوان کهول نظم ګو شاعر ښاغلی حفيظ الله ياد په خپل يو نظم "د مزدرانو ورځ" کښې د دې خبره په مکمله توګه عکاسي کوي.

اې د نړۍ خواريکښانو ورونو!
اې ځپل سوو مزدورانو ورونو!
درځئ باغيان شو له دې تور نظامه
د کارل مارکس پيروکارانو ورونو
د ځنځيرونو د شلولو وخت دی
له دې تيارو نه د وتلو وخت دی
دغه قانون دی د غټانو قانون
د خزانې د ښامارانو قانون
دلته زما او ستا ژوندون کفر دی
دلته قانون دی د لويانو قانون
د ځنځيرونو د شلولو وخت دی
له دې تيارو نه د وتلو وخت دی

مزدوره ستا د دې خولو نه قربان
ستا د دې ماتو اندامو نه قربان
ستا و همت ته سور سلام کومه
ستا د دې لوړو حوصلو نه قربان
د ځنځیرونو د شلولو وخت دی
د دې تیارو نه د وتلو وخت دی"(11)

مال، دولت، منصب او رتبې خلګ دومره د لېوتتوب تر حده رسولي دي په خپل ځان کښې دومره مست او ورک دي چې د انسانیت، میني، خواخوږۍ او همدردۍ نوم یې هم ځنې ورک کړی دی، د خوارانو، مظلومانو، یتیمانو، بې کسانو، مزدورانو او بزګرانو حقوق خوړل ورته جرم هم نۀ ښکاره کېږي، نۀ وفا، نۀ اخلاقیات، غرض د انسان د زړۀ د جوړولو هیڅ پروا هم نه کوي، د مزدور، غریب او بزګر د حقوقو د خوړلو په وجه د مظلومانو د ژوند رڼاګانې په تیارو بدلې شي، ځکه غریب له خپله ژونده بېزاره شي، د غریب او مزدور سره ټول عمر دهوکه روانه وي، دغه دهوکه او فرېب غریب محسوسوي او له خولې وتلې هره آه یې د فیوډالانو داغداره تصویر ښکاره کوي، داسې وي لکه خوار و غریب چې په فرېب او دهوکه وژني، د پروفیسر نسیم اڅکزي یو نظم "دار" دغه ټولي خبري په ډاګه کوي، د دۀ د نظم یو برخه:

"زۀ انسان یم
زۀ له تا څخه
صرف مینه، خواخوږي، انسانیت
د انسانانو حقوق غواړم
د خوارانو مظلومانو
یتیمانو حقوق غواړم
د بې کسه مزدورانو
بزګرانو حقوق غواړم
زۀ انسان یم
زۀ له تا څخه
اخلاق او وفا غواړم
دې غمونو تاریکو ته
زۀ د علم رڼا غواړم
په دهوکه مې څله وژنې؟"(12)

د ریاست غیر ذمه واره رویه او د ټولنې بې حسي له وجې زمونږ تر ګل نازک ماشومان په تنکیو تنکیو لاسونو په کچرو او مرداری کښې ګرځي او د خپل ځان د کور پالنه کوي، کوم ګلان چې د ښوونځي زینت ګرځېدلي، د قام او وطن ښه سباوون یې جوړول او خپله ښه زندګي به یې تېروله، د هغو ژوند په بدبویی، کچره او مرداری کښې خاورې شي، دا د ریاست ذمه داري ده چې د ماشومانو د تعلیم او زدکړې ذمه داري په خپله غاړه واخلي او د دوی د روښانه سباوون د پاره لارې هوارې کړي، له ریاسته سره سره د ټولنې د ودان او وس دارو خلکو هم دا ذمه داري جوړېږي چې د قام د هر بچي خیال د خپل بچي په څېر وساتي، خو دلته ذمه واره خلک او ریاست خپله ذمه واري نۀ تر سره کوي، ځکه د قام غمي ضایع کېږي، د ښاغلي سعید ګوهر دا نظم "فریاد" د ریاست او د ټولنې د مخورو خلکو د بې حسی او غیر ذمه وارو رویو تصویر ښکاره کوي:

فریاد

"تر ګل نازک په شودو جوړ
تنکي تنکي ماشومان
فاقو وهلي
لوږې تندې ځورولي بچیان
سهار وختي
له خپلو تنګو او نړاندو کورو
په خالي لاس راوځي
قلم دوات وي ورسره او نه تختی او کتاب
په بازارونو په کوڅو کښې، شي
خواره واره او تیت و پرک
په شا تر ځان لویې ګونی اخیستې
نۀ یې مخونه وي وینځلي، نه سرونه ږمونځ
په چیغو ډکې سترګې
خیرن پیرن
پینې پینې کالي په غاړه
نۀ سدری نۀ څادر
څیرې ګوټونه په پښو
په تاودۀ

په تمک یخ کښې
په باران په ځول کښې
د بیابان
هډوکي
بوټلان
ښیښې
او د اوسپینې ټوټې
د پلاسټک کڅوړې
دا ټولوي په خپلو چاودو لاسو
په مرداري کښې
د ګندونو په امبار کښې ګرځي
باداره! رزق لټوي"(13)

کله چې انسان د اشتراکي ژوند څخه ډله ییزو یعني د طبقاتي ژوند و خوا ته لاړې نو نفرتونه مختنه راغله، برابري ختم شوه، د یوه انسان له بل انسان سره د ژوند د تېرولو طرز انداز جلا شو، ډلي او طبقات د علم پوهي او سنجیدګۍ پر بنیاد نه بلکې د مال، دولت پر بنیاد مخ ته راغله، او د غریبي او مالداري طبقې تر منځ تفاوت پیدا شو، خان د خان او فیوډال د فیوډال هم پله شو، خان او فیوډال په لوړې طبقې کښې شمار شو او مزدور طبقه په لاندې ډله کښې شمار شو، څکه د لاندې طبقې استحصال روان شو او د مزدور د خولې احترام ختم شو او په ټولنه کښې اجتماعي خوشالي ختم او ورکه شوه، او ورسره د ملا او مقتدي توپیر او افیسر او د نوکر توپیر پیل شو، څکه انسانیت او اخلاقیات مخ پر کمزورۍ روان شو، د مزدور اولاد په تعلیمي ادارو کښې هم د ځیرکتیا او د ښه تعلیم د حصول صلاحیتونو لرلو باوجود له احساس محرومۍ سره مخامخ وي، که هر څومره ذهن، قابلیت او د انساني ارزښتونو ښایست ولري خو د لوړې طبقې ماشومان یې لا هم هغه قابلیت او د صلاحیت ذهن نه برداشتوي او د استاد نظر لا پر لوړې طبقې وي چې د ټولني لویه بې حسي ښکاره کوي، ښاغلی نعیم ازاد دغه ټولې خبرې په یوۀ نظم "زدکړه" کښې په ډېر کرب سره بیانوي، د دۀ د اوږده نظم څخه یوه برخه د نمونې په توګه وړاندې کوم:

"هوډ یې کړی وو چې زدکړه به کومه
د بابا هغه ارمان پوره کومه

چي په ژوند کښې يې ويلي وو و ما ته
که دي وس وو هومره زدکړه وکړه زياته

چي د لاس په مزدورۍ يې د شپې تېر وو
او غمونه د ژوندو ترښه چاپېر وو

د مهال دود او نادودي يې زغملې
او د وخت درنې څپېړې يې خوړلې

د زمان ور پېښنه کړې هره سترې
وه په زغم او په همت دوی هوسا کړې

د دووم کال پوهنځۍ يې وه پيل کړی
په ټولګۍ کښې وه په زدکړه کښې پياوړې

خو غربت د دې د پاره داسې تور وو
چي ښکلا او پوهه دواړه ورته اور وو

که په پوهه يې هر څومره ارزښت لوړ وو
د شتمنو د غرور په وړاندې څوړ وو

ځکه جوړ دلته ناوړه روايت وو
چي تلل په پوهه نه وو په دولت وو

د غريب وګړي پوهه که ښکلا وه
په بازار کښې د دولت ډېره وپړيا وه"(14)

يو طرف ته که په نړۍ کښې د خوارانو او شتمنو خلګو د ژوند د تېرولو انداز جلا جلا دی يعني څوک په عيش و عشرت کښې ورک وي، مستۍ اخيستي وي، څوک نۀ ويني، خو بل طرف ته خواره طبقه ټول عمر په مزدورۍ کښې د خپل رزق، روزۍ د ګټلو د پاره ځان خاورې کړي، خو له دې باوجود کله نا کله مالداره خلګ د مزدورانو او غريبانو خلګو چي څومره حق جوړېږي هغه حق او مزدوري هم په اسانه نۀ ورکوي، مزدوران او خواران خلګ له نورې مجبورۍ او در په درۍ سره مخامخ کېږي، په دا طريقه د مزدورانو له خولې ګوله وباسي، ځکه مزدور خپل زوی ته قلم او

کتاب په لاس کښې نهٔ شي ورکولای، او راروان نسل يې هم له تباهۍ سره مخامخ شي، ښاغلی باهمته شاعر عبدالقادر مجرم دغه ټول صورتحال په خپل نظم "مزدور ته" کښې داسې بيانوي:

"په ډېر همت راوزم
په صداقت راوزم
د جنګ په نيت راوزم
کومه جنګ له هغو خلګو سره
چې ستا د زوی له خولې ګوله وباسي
او ستا د زوی له لاسه و باسي قلم او کتاب
مزدوري وګرځوي ستا مزدوره
ستا د تڼاکو لاسو خيال نه ساتي
دا ستا د ستړي وجود خيال نه ساتي
زه به جنګ ستا د پاره څنګه وکړم
چې ته خپل حق د چا نه نهٔ غواړې
خاموش پاته يې"(15)

د سوهېلي پښتونخوا په نظم کښې د طبقاتي نظام پر ټولو اړخونو باندي بحث شوی دی، هم دغه رنګه د نوي کهول ځوان تکړه شاعر ښاغلی عزيز احمد عزيز دغه اوسنی نظام په مکمله توګه د زوروړو نظام بولي چي لويانو ته ګټه ور رسوي، خو د غريب او مزدور طبقې په نقصان تمامېږي، او ذلت ور په برخه کوي، يعني امير امير تر جوړوي او غريب غريب تر جوړوي، ځکه د دې نړۍ خوږلت خان، ملک، سردار، نواب، مير، چوهدري او وډېره ته نصيب دی، د انسانيت قدر له منځه تللی دی، د بشر دوستۍ پر ځای دولت دوستي راج کوي، دولت مندو خلګو ته هر څهٔ ورسي، حتی په قانون کښې هم د ځان د پاره لار جوړوي او ورسره د غريبې طبقې سره د ظلم و زياتوب کولو هيڅ قسم وېره يا زړهٔ سوی نه محسوسوي، هم دغه وجه ده چي د مزدورۍ طبقې ژوند تريخ دی، مزدور او زيارکښ ته بغاوت په کار دی، د دوی د ټنډې د خولې پاکولو وخت دی او دغه نفرت او فاصلې ختمول په کار دي، د ظلم او ظالمانو رسوايي ضروري ده، او د يو رنګه انساني ژوند د پاره بدلون راوستل فرض دی، د ښاغلي عزيز احمد عزيز نظم "بدلون" د پورتني بحث پوره عکاسي کوي:

**بدلون**

"دا فرسوده مړ د لویانو نظام
د زورورو جابرانو نظام
د څو بې رحمه شیطانانو نظام
د ځناورو دلالانو نظام
چېرې چې ګټه څو ماړهٔ پړسوي
چېرې چې هر استراحت خان ته نصیب
چیرې چې خوار ته د ژوند ښه ناورین دی
د دنیا خوند او خوږلت خان ته نصیب
چیرې چې ظلم وي، ظلمت اوسېږي
چېرې چې قدر د بشر نهٔ کېږي
چې و لوږ پوړو ته هر څهٔ ور رسي
داسې نور ګران دی نور وخت تر نه کېږي
له دې نظامه بغاوت په کار دی
دې کښې ساه تنګه د خوارانو خلګو
دا په هیڅ شکل د منلو نهٔ دی
بس پر یو ځای سئ زیارکښانو خلګو
د مزدور ټنډه پاکول په کار دي
د جبر مخ ته درېدل په کار دي
د نفرت لیکې ختمول په کار دي
شمع د علم بلول په کار دي
له غلامۍ نه ځان ایستل په کار دي
له هره لوري پاڅېدل په کار دي
دا ځناور رسوا کېدل په کار دي
تر خپل مرامه رسېدل په کار دي
چې سره یو رنګ انساني ژوندون شي
داسې بدلون ته لاره وړل په کار دي"(16)

په سوهېلي پښتونخوا کښې د طبقاتي نظام، سماجي نابرابرۍ او بې انصافۍ په هکله ليکل شوي نظمونو کښې د ښاغلي شهيم کاکړ نظمونه ډېر معني خېزه او دردوونکي دي، د ښاغلي شهيم کاکړ له دې نظم "دروا غ ووايم؟" کښې دا څرګندېږي چي په طبقاتي او په ډلو کښې وېشل شوي نظام کښې څوک دجنت غوندي ژوند تېروي او د نړۍ له هري سترېا ، سختۍ، پرېشانۍ او غم څخه ناخبره او بې پروا وي، په خپله مستۍ کښې داسې ورک وي چي د غرور او تکبر په نشه کښې سر له اسمانه وهي او د چا بيا خپل دردونه او اهونه د زړۀ له سره څکه کوي، په مات، کوټلي او زخمي زړۀ د ژوندون چاري تر سره کوي، د تنګ دستۍ، غريبۍ او د سختۍ ژوند يې د جبر پر لمبو کړوي، دی د لوړي طبقې په طبقاتي، سرمايه دار او غير انساني مغرور ذهنيت پوهېږي چي د هغوی په فکر کښې د غريب سړي د ضمير لرلو، صلاحيت لرلو او خوارۍ کښلو باوجود کمتر، سوالګر او بې ضمير عکس دی، که هر څو عقل مند، پوه، بشردوست، خوش اخلاق او باضمير وي خو په غريبۍ کښې د سرمايه دار په نظر کښې بې ضميره معلومېږي، که فقر نه کوي خو هغه ته سوالګر او فقير ښکاره کېږي، په مفلسۍکي هر اشنا او نااشنا انسان د دوی په نظر کښې لوېدلی غوندي ښکاره شي، ولې چي د دوی د فکر پيمانه پر طبقاتي ذهنيت ولاړه ده، د دوی هر څۀ پوره وي نو د هغوی مفلسه ورځ و دوی ته ډېره ناسياله، لوېدلې او بې ضميره ورځ ښکاري او د ځان سيال يې نۀ ګڼي، هغه ځکه چي دلته سيالي د انسانيت او انساني برابرۍ پر بنياد نۀ بلکې په طبقاتي نظام او طبقاتي فکر کښې ده خو دا فکر نۀ شته چي څوک ولې او پر کوم بنياد سرمايه دار دی او څوک ولې او پر کوم بنياد نېستمن دی، ځکه د طبقاتي نظام په مېچن کښې دل شوي غريب او مفلس د اميد ډيوه هم مړه شي او په مکمله توګه له مايوسۍ سره مخامخ شي او د نړۍ حسن او جمال ته پام اړول ورته ګران شي، او دې کړېدلي ژوند ته ښه ژوندون ويل له درواغو کم نه ګڼي، د شهيم کاکړ نظم: درواغ ووايم؟

"ما ته ژوندون هره شېبه په شېبه ټک راکوي
په تګ مي نه پرېږدي پر لاړ تيندک تيندک راکوي
په شته هنر او په شته زيار کښې مي مجبور ګرځوي
ما لمبېدلی تل د ځان په وينو سور ګرځوي
په شته ضمير کښې بې ضمير غوندي دنيا ته ښکارم
فقر هم نه کړم خو فقير غوندي دنيا ته ښکارم
په مفلسۍ کښې د هر چا تر نظر ولوېدلم
د هر اشنا او نا اشنا تر نظر ولوېدلم
ما ته ژوندون د خوشالۍ شېبه هم نه راکوي

په دې شپو شپو کښې د امید ډیوه هم نه راکوي
د مایوسیو په دې حال کښې چې اشعار ولیکم
د زړۀ په وینو ټول د زړۀ د ویر شعار ولیکم
نو شاعران ټول راته وایي چې وبال مه لیکه
شعر د حسن، د جمال شی دی جمال ولیکه
مګر زۀ وایم چې نه شعر دی د زړۀ خبره
زه له خپل زړۀ کولای نه سم په بل وړه خبره
ما ته چې اور دی ژوندون څنګه ورته باغ ووایم
اور ته که باغ وایم دروغ دي زۀ دروغ ووایم؟"(17)

کله چې د سوهېلي پښتونخوا د هغو شاعرانو ذکر کوو چې په نظمونو کښې يې طبقاتي شعور لیدل کېږي نو په هغو شاعرانو کښې یو خاص نوم د ښاغلي محمد اسحاق کارګر یادولای شو، ولې چې په دې اړه یې تر ټولو زیات نظمونه لیکلي دي، ښاغلی کارګر په شاعري کښې د نظمونو په ذریعه د طبقاتي نظام په ضد مبارزه کړې ده او په عملي میدان کښې یې هم د آل پاکستان فیډېشن آف ټرېډ یونین بلوچستان لېبر فیډرېشن او د واپډا هائیډو یونین پر بېلابېلو عهدو کار کړی دی، ښاغلی کارګر په دې حواله ژوره مطالعه لري، ځکه يې په نظمونو کښې هم اثر ښکاره کېږي، د ده له نظمونو څخه چې ما د کوم نظم انتخاب کړی دی د هغه سرلیک دی "دا زمونږ د کلي خان دی"، په دې نظم کښې د خان، ملک، سردار، نواب، میر، وډېره، ټکري او چوهدري مختلف کردارونه په ګوته شوي دي، دغه خلګ په مختلفو حوالو د ټولنې د غریب او مزدور طبقې استحصال کوي، د مزدورانو په خولو او زیار باندې وچ رغونه او دښتونه د فصل قابل شي، خو مزدور بیا هم هغسې خوار وي او فیوډالان له امیر څخه امیر تر جوړ شي، او ورسره په ټولنه کښې فساد هم خور کړي، ورور د ورور دښمن جوړ کړي او بېرته د بیا رغونې همدردي هم ښکاره کوي، دغه خګ هم پر ماجت قبضه ګر وي او هم يې له ښوونځي څخه خپله حجره جوړه کړې وي، د دوی د ژوند اصل مقصد دولت ګټل وي، د دې د پاره که د هر څو سپین سترګی ضرورت وي خو ډډه نه ورځني کوي، ښاغلی کارګر په دې نظم کښې د پیر، ملا او خلیفه منفي کردارونه هم له پامه نه دي غورځولي، ولې چې دغه درې واړه فیوډالانو د سر د سایې کردار ادا کوي او د دوی په ستاینه خپلې شپې او ورځې تېروي او د ټولنې غلطه تربیه کوي، دغه خلګ یوازې د خپل کور د جوړېدو د پاره دا هر څۀ کوي، دښمن دوست ګڼي خو چې ذاتي ګټه پکې ویني، د دې بنیادي وجه جهالت دی، نصیحت کوونکی د خان خدمت فرض ګڼي، او دغه جواز وړاندې کوي چې دوی ته دغه دولت او زور خدای ورکړی دی، په داسې حالاتو کښې د عدالت

کردار هم د اینځر د ګل په شان وي چې نوم یې وي خو ښکاري نهٔ، او ملا هم د خان پر ځنګ ولاړ دی، په دې عمل کښې ورسره شریک مجرم دی، ځکه یې سر په اسمان دی، د نظم "زمونږ د کلي خان" یو څو بندونه وړاندې کوم:

## دا زمونږ د کلي خان دی

"راته خندي پر هر میدان دی :: دا زمونږ د کلي خان دی

ورور له ورور سره اخته کړي :: د سره اور لوبه تازه کړي
ورته ګوري تماشه کړي :: بیا همدرد شي فیصله کړي
د درواغو یې پیمان دی :: دا زمونږ د کلي خان دی

څهٔ عجبه ننداره ده :: پر ماجت یې اجاره ده
ټول مکتب د ده حجره ده :: تل یې خوله په وینو سره ده
دا لېوه دی که انسان دی؟ :: دا زمونږ د کلي خان دی

دغه دښتي او رغونه :: دغه شنه زغونه باغونه
د مزدور په لاس اباد شو :: ځکه ټاکي یې لاسونه
مزدور خوار دی، دی ودان دی :: دا زمونږ د کلي خان دی

میر، سردار، که ټکري دی :: خان، نواب، که چوهدري دی
سوچ د ټولو سره یو دی :: دا میراث د پرنګي دی
د زردارو زر ایمان دی :: دا زمونږ د کلي خان دی

پیر، ملا، که خلیفه دی :: د فیوډال د سر سایه دی
د فیوډال کوي ستاینه :: هر خدمت ته یې جوګه دی
بې مهار د اوښ په شان دی :: دا زمونږ د کلي خان دی

توره شپه د جهالت دی :: د ناصح دا نصیحت دی
پر مونږ فرض د خان عزت دی :: خدای ورکړی ډېر دولت دی
زورور او پهلوان دی :: دا زمونږ د کلي خان دی
عدالت د اینځر ګل شو :: و خوارانو ته اور بل شو
چې ملا هم د خان خپل شو :: او شریک یې په عمل شو
اوس له کبره تر اسمان دی :: دا زمونږ د کلي خان دی"(18)

❀❀❀

## حوالې


(1) مومند قلندر، پښتو لغت، درياب، اين ډبليو ايف پي ټيکسټ بک بورډ پېښور، کال ۱۹۹۴ء مخ۹۲۹

(2) فيروزالدين، مولوی، اردو لغت، فيروزاللغات، فيروز اينډ سنز پرائيويټ ليميټډ لاہور، ۲۰۰۵ء مخ ۹۳

(3) همدغه، مخ ۹۳

(4)www. Wakipadia Nate 24- 03- 2016.

(5) سيماب، نصيب الله، ډاکټر، د کره کتني اصطلاحات، قلات پريس کوټه، ۲۰۱۳ء، مخ۱۶۶

(6) صابر، سلطان محمد، د زړۀ غبار، شرکت پرنټنګ پريس لاهور، ۱۹۹۱ء، مخ۳۶

(7) سيال کاکړ، پروفيسر ولي محمد، د کسې د لمني پښتانۀ ليکوال دووم ټوک، بولان بک کارپوريشن کوټه، ۱۹۸۳ء، مخ۱۳۹

(8) سيال کاکړ پروفيسر، پښتني جام، سعد پبلشنز کوټه، ۱۹۷۱ء، مخ۱۶۵

(9) درويش دراني، عبيدالله، په ناورين پسې ناورين، صحاف نشراتي موئسسه کوټه، ۲۰۱۳ء، مخ۱۰۸(۱۰) شوق، افضل، په لټون ستا د خبرې د سلو يار شوم، عالم پرنټرز اسلام اباد، ۲۰۰۳ء، مخ۵۶

(11) ياد، حفيظ الله، ليکوال مجله، جولائي/ اګست، پېښور، ۲۰۱۸، مخ۳۶

(12) اڅکزی، پروفيسر نسيم، وروستی رېغ، بخاري ټريډرز جناح روډ کوټه، ۱۹۸۸ء، مخ۶۸.

(13) ګوهر، سعيد احمد، په خيري لمن کښې اميد، يونائيټډ پريس کوټه، ۲۰۰۰ء، مخ۸۱

(14) ازاد، محمد نعيم، د خيال پيرزويني، يونائيټډ پريس کوټه، ۲۰۱۲م، مخ۹۰.

(15) مجرم، عبدالقادر، مينه مروره شوه، هيواد ادبي يون کلاسيف الله، کال۲۰۱۲ء، مخ۹

(16) عزيز، عريز احمد، (س، ن)، بدلون، هيواد ادبي يون کلاسيف الله، مخ۱۰۲

(17) کاکړ، شهيم، ترهېدلې زانې راغلې، ويښ ليکوال ادبي ټولنه ږوب، ۲۰۱۳ء، مخ۸۵

(18) کارګر محمد اسحاق، د زړونو رېغ، پښتو ادبي قنديل مسلم باغ، ۲۰۱۳ء، مخ۶